سا پوهنه
Psychology

کبیر ستوری
Kabir Stori

# د هوښیارتیا کلتوري بې پلوه تله

Da Hukhyartia Kulturi be Palawa Tala

په پښتو، انګریزي او جرمني

# Culturefair Intelligence Test (CIT)

In Pashto, English, and German

# Kulturfairen Intelligenz Test (KIT)

In Paschtu, Englisch und Deutch

خپرونکي: د پښتونخوا د پوهنې دېره، پېښور
Da Pakhtoonkhwa da pohane Dera
Herausgeber: Haus der Wissenschaft von Paschtunchwa
Publisher: The Pashtoonkhwa Home of Science, Peshawar

# کبیر ستوری

# Kabir Stori


# د هوښیارتیا کولتوری بې پلوه تله

## Da Hukhyartia Kulturi Be Palawa Tala

## Culturfair Intelligence Test (C I T)
## Kulturfairer Intelligenz-Test (K I T)

په پښتو ، انګریزي او جرمني

In : Pashto, English and German
In : Paschtu , Englisch und Deutsch


خپرونکی : د پښتونخوا د پوهنې دېره ، پېښور

Herausgeber: Haus der Wissenschaft von Paschtunchwa, Peshawar
Publisher: The Home of Science Pashtoonkhwa, Peshawar



ډوکتور کبیر ستوری

Dr. Kabir Stori
Kiebitzweg 12
50389 Wesseling
www.kabirstori.com
E-Mail: stori@kabirstori.com

# د کتاب پېژندنه

د کتاب نوم : د هوښيارتيا کولتوری بې پلوه تله
ليکوال : ډاکتر کبير ستوری
خپرووںکی : د پښتونخوا د پوهنې دېره ، پېښور
ډيزاين او چاپ : ختيځ بيارغونې اداره ( کور )
چاپ نېټه : فبروري ۲۰۰۴
د خپرونو لړ : ۶۳

د انټرنيټ په مخ
کمپوز : نسيم خان ستوری
ترتيب : ايمل خان ستوری

# Book Introduction

Name: Culture-fair Intelligence Test (C I T)
Author: Dr. Kabir Stori
Designed & Printed by: Kor, Publications Department
Publisher : Da Pakhtoonkhwa Da Pohane Dera

# Impressum

Buchteitel: Kulturfairer Intelligenz-Test (K I T )
Verfasser : Dr. Kabir Stori
Verlag: Kor, Publications Department
Herausgeber : Haus der Wissenschaft von Pashtunchwa Peshawar

# سریزه

هوښیارتیا په انساني ژوند کې مهم رول لوبوي . د ډیرې مودې راهیسې ساپوهان هڅه کوي چې د هوښیارتیا د کولتور څخه ناپییلې یا کولتوری بې پلوه تله جوړه کړي . یو شمیر پوهانو د ژبې پورې د هوښیارتیا ناپییلی تلی د کولتور څخه ازادی تلی و نومولی . خو بیا ثابته شوه چې د ژبې ناپییلې تلې د ژبې پوری د ټرلو تلو په پرتله ډېرې د کولتور د اغیزې لاندې دي .

د پلوم ساپوه ډوکتور کبیر ستوری چې د پښتونخوا په ادبي کړیو کې د وطن پرست شاعر په توګه شهرت لري، یوه د هوښیارتیا کولتوری بې پلوه تله جوړه کړه . پدې تله کې د ټولو خاصو کولتوري لړونو مخه نیول شویده یا بې پلوه شویدي ، لدې کبله کولتوری بې پلوه تله نومیږي. داتله د کولتوری اغیزو څخه آزاده نده بلکې د مختلفو کولتورونو د مختلفو غښتلو اغیزو څخه ازاده ده .

د ډاکتر ستوری کولتوري بې پلوه تله د پیدایښتي هوښیارتیا د اندازه کولو لپاره په تیره بیا د روزنې په برخه کې یوه ارزښت ناکه اله ده چې نړۍ واله استمال کېدلی شي . موږ په دې ډاډه یو چې « د هوښیارتیا کولتوري بې پلوه تله »د مختلفو کولتورونو تر منځ د څېړنې لپاره مناسبه او د ټولو ولسونو په ګټه ده .

لایق زاده لایق

د پښتونخوا د پوهنې د دېرې مشر

پېښور ــ فبروري ۲۰۰۴

# د هوښيارتيا کولتوري* بې پلوه تله

(Culturefair Intelligence Test)

## پېژند ګلوي

د هوښيارتيا کولتوري بې پلوه تله نه يوازې نظرياتي پوهنيز ارزښت لري ، بلکې په عملي ژوند او چارو کې په تيره بيا د ډيرو قامونو په هيواد کې ورته غټه اړتيا ليدل کيږي

### د هوښيارتيا د کولتوري ناپييلي تلي د لفظ منځ ته راتګ :

د هوښيارتيا د کولتوري ناپييلي تلي ضرورت د لومړۍ نړيوالي جګړې څخه لږ څه د مخه د امريکا د متحده ايالتونو په پوځ کې د نوکرۍ له کبله پيدا شو چې په مختلفو ژبو غږيدل ، مختلفه د روزنو درجه يې لرله او د مختلفو قومونو پورې ئې اړه لرله. دمساوی چانس د ناري د لاندي د پوځ د الفا د هوښيارتيا د تلي ( Army-Alpha-Test ) چې د ژبې پورې تړلې وه، يوه د ژبې څخه ناپييلی بڼه جوړه شوه چې د پوځ د بيتا په تله ( Army-Beta-Test ) مشهوره شوه چې د لومړي ځل لپاره د نړۍ د لومړۍ جګړې په وخت کې ترې کار واخيستل شو [١].

ددغه وخت راهيسې زيات شمير د ژبې څخه ناپييلي د هوښيارتيا تلې منځ ته راغلي او پرله پسې دا نظريه غښتلي کيده چې دا د ژبې څخه ناپييلي تلي د کولتور څخه هم ناپييلي دي. کټل (Cattel) خپله د هوښيارتيا تله د ژبې څخه د ناپييلتوب له کبله د کولتور څخه ازاده(Culture-free)وګڼله [٢]. په هر ډول د هوښيارتيا د ژبې څخه د ازادو تلو په کولتوري ناپييلتوب نيوکه ( اعتراض / تنقيد ) هم زيات شو چې په دې منځ کې تر ډېرو جګ پړاو ته رسيدلی دی.

---

* د کولتور( Kultur ) يا کلچر ( Culture ) لپاره په پښتو کې د ثقافت ،تهذيب ، فرهنګ ، هڅوب ، ژوند دود او کرني لفظونه هم پکارول کيږي. خو موږ د کولتور استلا غوره وګڼله.

# د ژبې څخه د ازادو تلو په کولتوري ازادۍ نیوکه

مېرخ( Merz ) پدې نښتون کې لیکي چې ده د خپلې څېړنې په لړ کې ثابته کړېده چې د هوښیارتیا د ژبې څخه ازادې تلې خاص اړیکې د ژبې سره لري. دی زیاتوي چې سرې د ژبې څخه د هوښیارتیا په ناپییلې تله کې پایلې ( نتیجې ) زیاتې ښې کولی شي. کله چې د هغه کسانو څخه چې هوښیارتیا ئې تلل کیږي غوښتنه وشي چې هر څه چې وینی یا سوچ ئې کوي په جګ اواز ووایې. پداسې حال کې چې د ژبې پورې د هوښیارتیا په پییلې تله کې په دې توګه پایلې (نتیجې ) نه ښې کېږي او یا ډېرې لږې ښې کیږی دا واقعیت میرخ( Merz ) بیا داسې روښانوي چې « د ژبې څخه د هوښیارتیا په ناپییلو تلو د ژبې او په دې توګه د کولتوري چاپیریال اغېزه زیاته ده[٣].

درنت ( Drenth ) او فان دیر فلیر ( Von Der Flier ) همدا خبره پخوي چې وایي زیات شمیر د ژبې څخه د هوښیارتیا ناپییلې تلې همدوغومره د کولتوري لړونو پورې تړلې دي لکه څومره چې د ژبې پورې پییلې تلې دي[۴].

پدې نوي وخت کې دا پرله پسې روښانېږي چې د هوښیارتیا د ژبې د پییلو تلو په پرتله د ژبې څخه ناپییلې تلې ډېرې د کولتوري اغیزې د لاندې دی[۵].

زموږ په څېړنه کې چې مو د پښتونخوا ( افغانستان ) د کونړ په صوبه او جرمني کې سره ته رسولی ده راپه ګوته شویده چې د ژبې سربیره نور لړونه هم د هوښیارتیا په عنعنوی تلو کې رول لوبوی چې د کولتور پورې تړلی خوی لري[۲]. د څېړنې څخه د مخه مونږ د دانیل( Daniel ) په شکلونو کې د هوښیارتیا تله( Figure Reasoning – Test ) د هنداري د تصویر په شان د کیڼ څخه ښي پلو ته واړوله او د پښتو د لیک دود سره مو سمه کړه او د هوښیارتیا آینه( Spiegel der Intelligenz )موونومولهـ د څېړنې په پای کې راپه ډاګه شوه چې پښتانه « د هوښیارتیا په آینه» کې چې د دوی د لیک دود او سوچ د عادتونو سره برابره وه ښې نتیجې « په شکلونو کې د هوښیارتیا د تلې » څخه لري او جرمنیان بیا برخلاف په شکلونو کې د هوښیارتیا په تلې کې د هوښیارتیا د آینې څخه ښې نتیجې لري[٧]. دا ددې مانا لري چې سوچ د روزنې او تولنیز کیدلو د لړۍ پواسطه په خاص پلو وده کوی او پلو ( طرف ) د هوښیارتیا د پوښتنو په حل کې رول لوبوي چې د کولتور پورې تړلی خوی لري.

لینګمان( Liungman ) د هوښیارتیا د ژبې څخه یو شمیر ازادی تلې (Culture-free Test von Cattel and Raven Matrices) راسپړلې ( تحلیل کړې ) او دې نتیجې ته رسیدلی دی چې د هوښیارتیا د ژبې څخه د ازادو تلو د یو شمیر پوښتنو سم اندې یا سم سوچې ( منطقي ) اصول د مختلفو کولتورونو د کسانو لپاره مختلفی ماناوې لری چې د تلې د جوړونکي د سوچ سره توپیر لری[٨].

مونږ هم دریون( Raven ) د شتانډارد پروګرسیو ماتر یسو (Standard progressive Matrice ) تلې پوښتنې راوسپړلې ( تحیل کړې ) او را په ګوته شوه چې د ځینو پوښتنو د حل لاره په ښوونځې کې زده کیږې او د ښونځیو پورې تړلی خوی لرې. دا ددې مانا لرې چې ددې پوښتنو د حل لپاره د ښوونځې زده کړه شرط ده او نالوستې کسان ددې پوښتنو د حل د لارې سره اشنا ندې او ورته سخته تمامیږی [۹].

د هوښیارتیا د ژبې څخه په زیات شمیر ازادو تلو کې هندسوي مواد چې په ښونځیو کې ورسره سرې اشنا کیږی لګول شوي دي او له دې کبله لوستې کسان ددې سره بلد دي او د نالوستو کسانو په پرتله چې ورسره بلد ندې ښه کار ترې اخستلی شې سربیره پر دې د هوښیارتیا د ژبې څخه د ازادو تلو په زیات شمیر کې د لاتینی تورو یا عربې شمیر پواسطه د پوښتنو ځواب په ښه کیږې دا چې په ځینو کولتورونو کې د شمیر بل ډول سیستم کارول کیږې نو ددې کولتور د کسانو لپاره د پوښتنو ځواب په لاتینې تورو یا عربې شمیر په ښه کول د هغه کولتور د کسانو په پرتله چې ددی شمیر یا تورو سره بلدوي سخت تمامیږې. څرنګه چې په ټولو کولتورونو، ګړندی او د وخت د فشار د لاندې کار رواج ندی نو د پوښتنو د حل لپاره د وخت تنګه پوله هم بې نیوکی ( انتقاده ) نده.

د هوښیارتیا د ژبې څخه د ازادو تلو د اتبار ( Validity ) او باور(Reliability)اندازه چې د کلاسیکې نظریې له مخې د تلې د غوره والی نښې دي په مختلفو کولتورونو کې د رضایت وړ نده [۱۰]. که څېر شو نو وبه وینو چې د هوښیارتیا د ژبې څخه د ازادو تلو په کولتوری ازادی نیوکی ( انتقادونه ) نه یوازې مونږ ته دا راښیې چې د ژبې څخه ازادې تلې د کولتور څخه ازادې تلې ندې، بلکې یو شمیر غوښتنې هم را په ګوته کوې چې د هوښیارتیا د یوې کولتوری بې پلوه تلې د پیژند ( تعریف ) او ودې سبب ګرزیدلی شې.

## غوښتنې :

۱ ) تلې د موادو سره پکار دې چې د مختلفو کولتورونو ډلې او هم د یوه کولتور په دننه کې ډلې لکه لوستې او نالوستې، ښځې او نران یو شانته بلد وي.

**۲ ) له پلوه ( طرفه ) ناپییلتوب :**

د پوښتنو حل باید د یوه نومیرلی ( خاص ) پلو ( طرف ) پورې تړلی نه وي ( لکه د کیڼ څخه ښې پلو ته او یا برخلاف د ښې څخه کیڼ پلو ته او یا د پاس نه لاندې ته او یا برخلاف له لاندې نه پاس ته.

**۳ ) د پوښتنو د حل لاره :**

د پوښتنو د حل د لارې سره بایده دې چې د مختلفو کولتورونو ډلې او په یوه کولتور کې ډلې په تیره بیا لوستې او نالوستې کسان یو شانته بلد وي.

**۴ ) د پوښتنو لپاره د وخت تنګوالی :**

د پوښتنو د حل لپاره پکار نه ده چې د وخت پوله ډېره تنګه وي.

**۵ ) يو شانته مانا :**

د تلې متن ياني د پوښتنو سم اندي يا سم سوچي (منطقی ) اصولونه بايده دي چې د مختلفو کولتورونو او د يوه کولتور په دننه کې د مختلفو ډلو لپاره لکه لوستو ، نالوستو کسانو يا ښځو او نرانو لپاره مختلفه مانا ونلري.

**۶ ) د غوره والی نښې :**

دا تله بايده ده چې د کلاسيکي نظريي غوښتنې چې اتبار (Validity) ، عينيت يا د ذهنه ناپيلتوب (Objectivity) او باور (Reliability ) دي، پوره کاندي.

**عينيت يا له ذهنه د ناپيپلتوب** (Objectivity): مطلب دا دی چې د تلنې نتيجې د څيړونکي يا د تلونکي د اغيزې نه ناپيپلي وي. په خاص ډول سره عينيت يا له ذهنه د ناپيپلوب لفظ هم شته دی. په خاص ډول عيني يا له ذهنه ناپيپلې يوه تله هله ګڼل کيږی کله چې دا تله درش د مودل ( Rasch –Modell ) سره برابره وي .

**اتبار** (Validity) : دلته دا پوښتنه کېږي ، چې ايا يوه تله هغه څه تلي څه چې بايد وتلي.

**باور** (Reliability) : دلته دا پوښتنه کېږي چې يوه تله څومره دقيق تلل کوي. د تلې د غوره والي ددې نښو د مالومولو لپاره ډېرې لارې شته دی ، چې دلته انځور کيدلی نه شي.

# د هوښيارتيا د کولتوري بې پلوه تلې پيژند ( تعريف )

که چيرته د هوښيارتيا يوه تله پاسنۍ غوښتنې پوره کړي نو بيا ورته سړی کولتوري بې پلوه تله ويلی شي ، ځکه چې ددې غوښتنو په پوره کولو سره تله د نوميرلو ( خاصو ) کولتوري او د روزنې د لړونو څخه خالي کيږي او يا بې پلوه کېږي. يوه داسې تله د کولتوري اغيزو څخه خالي نده خو د مختلفو کولتورونو د مختلفو غښتلو اغيزو ( تاثيرونو ) څخه ازاده ده. په نورو تورو سره د مختلفو کولتورونو د يو هومره اغيزې د لاندې ده ، دا تله د مختلفو کولتورونو په ګډه ماده نه بلکې په ورته ( مشابه ) ماده ولاړه ده او د مختلفو کولتورونو کسانو ته ورته شرطونه ږدي. په دې تله کې د بيلو بيلو کولتورونو کسانو او د يوه کولتور په دننه کې مختلفو ډلو ته د کولتوري لړونو پواسطه نه امتياز ورکول کېږي او نه شاته غورځول کېږي. سړی دا تله له دې کبله په پراخه مانا سره له کولتوره آزاده ګڼلی شي دا خبره د عينيت ( Objectivity ) په عمومي منل شوي اصول ولاړه ده. د کوم له مخې چې د کتنې نتيجه د کتوونکي څخه ناپيپلې ده.

عينيت ( د ذهن څخه ناپييلتوب ) لکه د هوښيارتيا د کولتور څخه د ناپييلې تلې د لفظ يا استلا په شان په تنګه مانا سره امکان نلري خو په دې هکله په دومره اندازه يووالی شته دی چې وايي يو شی هغه وخت عيني دی کله چې ذهني مساوات د دغه شي په هکله موجود وي نو سرې د هوښيارتيا يوه تله د کولتور څخه ناپييلې يا د کولتور ه ازاده هغه وخت ګڼلی شي چې د مختلفو کولتورونو د يوهومره اغيزو لاندې وي . خو موږ د دقيق والي له کبله د هوښيارتيا د کولتور بې پلوه تلې لفظ ته امتيازوروکو.

## د هوښيارتيا د کولتوري بې پلوه تلې بنسټ :

د هوښيارتيا کولتوري بې پلوه تله د ژبې څخه د هوښيارتيا د ناپييلو تلو په کولتوري ازادۍ نيوکی ( انتقاد ) ته په پاملرنه سره جوړه شوی ده . د کولتور (Kultur) او پيدا ابنټ (Natur) تضاد د هوښيارتيا د کولتوری بې پلوه تلې د موادو په ټاکلو کې رول لوبوي ټول هغه څه چې انساني پيداوار دي او د پيدا ابنټ ( طبيعت ، قدرت ) هغه برخه چې انسانانو تغير ورکړي دی د کولتور پوری اړه لري . څرنګه چې کولتوري شيان د کولتور څخه نا پييلي کېدلی نشي نو د هوښيارتيا د کولتوري بې پلوه تلی د موادو په ټاکلو کې پيدا ابنټی شيانو ته پاملرنه وشوه . د پيدا ابنټی شيانو څخه هغه وټاکلی شو چې ټينګې او کلکې بڼې لري او هر انسان ته معلومی اوعامې وي لکه مياشت ( يا نيمايي سپوږمۍ ) ستوري ، همدا شان د وجود برخې لکه لاسونه ، پښې او داسې نور.

د تخنيکي علتونو له کبله د هوښيارتيا په کولتوري بې پلوه تله کې يوازې نيمايي سپوږمۍ ( مياشتې )او ستوري کارول شوي دي. په نيمايي سپوږميو او ستورو پوښتنې داسې جوړې شوي دي چې له يوې خوا د پوښتنو د حل لاره د کوم پلو ( طرف ) پورې تړلې نه ده ، او له بلې خوا د هوښيارتيا د عنعنوي تلو سم اندي يا سم سوچي ( منطقي ) اصول پکې نغاړل شوي دي. د هوښيارتيا د کولتوری بې پلوه تلې د پوښتنو د سختوالي اندازه په سم اندي (Logical ) توګه د بېو د شمير او د پوښتنو د سم اندي ( منطقي ) اصولو د شمير پواسطه ټاکل شوي ده . د هوښيارتيا په کولتوری بې پلوه تله کې ځوابونه د ټکو د شمير ديوه داسې سيستم پواسطه په نښه کېږي چې سړی د مختلفو ژبو او د شمېر د مختلفو سيستمونو څخه ناپييلي ګڼلی شي او سړی داسې اټکل کولی شي ، چې د ټولو کولتورونو کسانو ورسره يو شانته بلد دي او يا يو شانته بلد نه دي.

١ ٢ ٣ ۴ ۵ ۶ ٧ ٨ ٩ ١٠



د ټکو د شمېر په پاسني سيستم کې يو ټکی د يو ، دوه ټکي د دوه او نهه ټکي د نهه مانا لري د لسو ټکو لپاره يوه کرښه راځي.
د مانا د يو شانته والي غوښتنه او د غوره والي نښې په امپېري( Imperical ) توګه ازماينبت شوی دي

## لاره ( ميتود ) :

د هوښيارتيا د يو شمېر د ژبې څخه د ازادو عنعنوي تلو ( د دانيل په شکلونو کې د هوښيارتيا تله او د ريون د پر مختللو ماترسو تله ) سره يو ځای ، د هوښيارتيا په کولتوری بې پلوه تلې په کونړ پښتونخوا کې ۵۲۰ تنه ازمايښت شو او لاس ته راغلی پايلې ( نتيجې ) د تلو کلاسيکي نظريې او د رش د موډل( Rash-Modell ) له مخې راسپړل ( تحليل ) شوي دي .

## پايلي ( نتيجې ) :

د هوښيارتيا کولتوری بې پلوه تله هم د کلاسيکي نظريې او هم د رش د موډل-Rash) ( Modell له مخې د عنعنوي تلو څخه غوره وه دا تله د حل کړو پوښتنو په بنسټ د جوړو شوو ډلو او د لوستو ، نالوستو ډلو په برخه کې د پورتني موډل سره برابره وه او په دې توګه خاصه عيني ( Specific –objective ) وه، په داسې حال کې چې عنعنوي تلې د رش د موډل ( Rash-Modell)سره سمون نه خوري کومې تلې چې ددې موډل سره برابرې وی نو هغه د ازمايښت شوو ډلو لپاره يو شان مانا هم لري په دې توګه د يو شانته مانا غوښتنه سرې پوره ګڼلی شي . سربېره پر دې د هوښيارتيا د عنعنوي تلو څخه کولتوری بې پلوه تله ډېر دننی ټينګښت( دقيقوالی ، باور ) لري.

## راسپړنه ( تحليل ) :

د هوښيارتيا په کولتوری بې پلوه تله کې د پوښتنو د يوشانته مانا لرلو سربېره د تلې د موادو غوښتنه هم پوره شوې ده ځکه چې هغه مواد چې دا تله پرې جوړه شوې ده هر انسان ته مالوم (معلوم) او عام دي . ددې موادو سره د هندسي موادو په برخلاف لوستي او نالوستي کسان يو شانته بلد دي.
همدغه شان د پلو ه ( طرفه ) د ناپييلتوب غوښتنه او د پوښتنو د حل د لارې غوښتنه پوره شوې ده ځکه چې د هوښيارتيا د کولتوری بې پلوه تلې د پوښتنو حل د کوم پلو ( طرف ) پورې تړلی ندی او هم ئې د پوښتنو د حل لپاره د ښوونځي زده کړه شرط نده. همدغسې د پوښتنو ځوابونه د ټکو د شمېر د يوه سيستم پواسطه په نښه کيږي چې د مختلفو کولتورونو کسان ورسره يو شانته اشانا يا نا اشنا دي د پوښتنو د حل لپاره د وخت د پولې دنه تنګوالي غو ښتنه هم پوره ده، ځکه چې هر چاته د پوښتنو د حل لپاره پوره وخت ورکول کيږي.

همدغه شان د هوښيارتيا د کولتورى بې پلوه تلې د غوره والي نښې چې عينيت (Objectivity) اتبار ( Validity) دى د رضايت وړ دى .لکه څنګه چې په امپيرى (Imperical)توګه ثابته شويده.

د هوښيارتيا کولتورى بې پلوه تله په خاص ډول عينى ( Objective ) ده او د هوښيارتيا د عنعنوي تلو څخه زيات دنني ټينګښت (Innere Konsistenz) لري ياني د باور(Reliability) وړ ده او سم تلل کوي. د هوښيارتيا د کولتورى بې پلوه تلې اتبار(Validity) په سم اندى(Logical) توګه ددې تلې په پوښتنو کې د هوښيارتيا د عنعنوي تلو د سم اندي ( منطقي ) اصولو د نغاړلو پواسطه مدلل کېږي. په لنډه توګه سره سرې ويلى شي چې د هوښيارتيا کولتورى بې پلوه تله تقريبا ټولې غوښتنې چې بايد يوه کولتوري بې پلوه تله ئې پوره کړي ، پوره کوي او له دې کبله کولتور بې پلوه ده.

## د هوښيارتيا د کولتوري بې پلوه تلې د کاروني ډګرونه :

څرنګه چې د هوښيارتيا کولتوري بې پلوه تله د نوميرلې کولتوري لړونو څخه خالي ده او يا بې پلوه شوې ده نو دا تله په ډېره اندازه غونډه ( عمومي ميراثي هوښيارتيا اندازه کوي چې په هر چار کې اغېزه لري. دا نه يوازې په مختلفو کولتورونو کې د هوښيارتيا د څېړنې لپاره يوه ضروري مهمه وسيله ده، بلکې د ژوند په ډېرو برخو کې په تېره بيا د ښووني په برخه کې د لوړې زده کړې او پوهنتونونو لپاره د زده کوونکو او په موسسو او تنظيمونو کې د ټاکلو دندو لپاره د مناسبو کسانو د نيولو يوه مهمه وسيله ده. د کولتوري بې پلوه تلې نړيوال ارزښت ورځ په ورځ زياتيږي ځکه چې د وګړو ترمنځ تماسونه زيات شوي او نور هم زياتيږي.

# د هوښيارتيا د کولتوري بې پلوه تلې د کاروني لارښود

## د هوښيارتيا د کولتوري بې پلوه تلې کارونه :

د هوښيارتيا په کولتوري بې پلوه تله په ډله ايزه توګه او يا ځانګړى توګه هوښيارتيا اندازه کيدلى شي. خو مخکې له دې چې په دې تله د نورو هوښيارتيا وتلل شي ، ښه دا ده چې لومړى پرې سړى خپله هوښيارتيا وتلي.

په ډله ايزه توګه د هوښيارتيا د اندازه کولو په وخت کې څېړونکي په لنډو تورو د خپلې څېړنې هدف څرګندوي او په دې لړ کې ددې هڅه کوي چې د ملګرتيا يوه فضا منځ ته راشي. بيا ترې غوښتنه کوي چې خپل نوم او د زيږيدو نېټه او د څېړنې نېټه د ځواب په پاڼه کې وليکي ( په ګوته او يا په قلم ئې ورته د ځواب په پاڼه کې ځاى ورښيي ) د نالوستو کسانو نومونه د ځواب په پاڼه کې پخپله ليکى او هغوى د نومونو تپوس کوي.

## ښوونه :

ځېرونکي د ټکو شمېر د ځواب د پاڼې او تلې د پوښتنو په مرسته په دې تورو سره څرګندوي چې تاسې دلته ټکي وینئ. دا ټکي خاصه مانا لري چې سرې پرې په اسانې پوهېدلی شي. یو ټکی د یو مانا لري ، دوه ټکی د دوه او همدغسې نورو نهو ټکو پورې چې د نهو مانا لري.
د لسو ټکو لپاره یوه کرښه ده چې د لسو مانا لري. دا سرې د ټکو په پرتله په اسانۍ سره شمېرلی شي. یوه کرښه د لس مانا لری او دوه کرښې د شل ټکو مانا لری، دری کرښې دیرش او همدغسې پنځه کرښې د پنځوسو مانا لری.
یو ټکی او یوه کرښه د یوولسو مانا لری. دوه ټکی او یوه کرښه د دولسو مانا لری ، نهه ټکی او یوه کرښه د نولسو مانا لری. یو ټکی او دوه کرښې د یوویشتو ، یو ټکی او دری کرښې د یودیرشو مانا لری همدغه شان نور.
اوس پام وکړئ. د ځواب د پاڼې په ښي او کیڼ اړخ کې غټ ټکي یا شمیر وینئ او په منځ کې کوچني ټکي یا شمیر. دا غټ ټکي یا شمیر د تلې د پوښتنو شمیر دي. ورسره پرتله ئې کړئ سمه ده. د هرې پوښتنې لاندې د ځواب پنځه ګردۍ یا کړۍ دي ، چې پرسر ئې کوچنی ټکی یا شمیر لیکل شوی دی. دا د یو ښوښتنو د ځواب نمره ده، چې ستاسې د ځواب د پاڼې په منځ کې لیکل شوې ده.
د شمېر ددې سیستم په هکله څوک کومه پوښتنه لري ؟. بیا ځېرونکی یا تلونکی د بېلګې پوښتنو ته راځي.

## لومړۍ بېلګه :

تاسې ددې ګردیو ( ګړیو ) په منځ کې ستوری او نمایي سپوږمۍ ( میاشتې ) وینئ چې په ټاکلې قاعده انځور شوې دي. تاسې باید چې دا قاعده پیدا کړئ. ( ځېرونکي یا تلونکي وایي ) که چیرته تاسې دد ګردیو پّه منځ کې د نیمایي سپوږمۍ له پاسه او له لاندې ټول ستوري وشمېرئ، نو شپږ ستوري کیږي ، همداسې دا نورې ګردۍ هم دي. کنترول ئې کړئ چې دا سمه ده ( ځېرونکي یا تلونکي تر هغو انتظار کوي چې ټول ئې وشمیري ). ښه نو په هره ګردۍ کې یوه نیمه سپوږمۍ یا میاشته او شپږ ستوري دي په خالي ګردۍ کې هم پکار دي چې شپږ ستوري او یوه نیمه سپوږمۍ وي ، اوس نو په لاندې قطار کې د پنځو ځوابونو له ګردیو څخه هغه ګردۍ ګورو چې شپږ ستوري او یوه نیمه سپوږمۍ پکې وي ، څلورمه ګردۍ سم ځواب دی.
موږ لدې کبله د ځواب په پاڼه کې په لومړۍ بېلګه کې په څلورو کرښه راښکلې ده. زه غواړم چې یو ځل بیا تاسې ته ووایم چې له پنځو ځوابونو څخه یوازې یو ځواب سم دی.

## دویمه بېلګه :

په هره ګردۍ کې یو ځانته ستوری وینئ ، چې ځای ئې مهم نه دی ، دلته ټولو ګردیو کې یو ستوری ګډ دی سم ځواب هغه ګردۍ ده چې یو ستوری پکې شته. سم ځواب یو دی د ځواب په پاڼه کې په یو کرښه راکاږی. څوک کومه پوښتنه لري.

## دریمه بېلګه :

دلته په ټول انګړ کې د ستورو یو شانته شمیر مهم دی. مونږ ګورو په ټول انګړ کې دوه ځلې دوه ستوري ، دوځلې یو ستوری خو یو ځلې درې ستوري دي. دا پکار دي چې درې ستوري هم دوه ځلې شي، تر څو چې ددې انګړ د ستورو د تنظیم قاعده بشپړه شي . اوس ډیره اسانه ده چې د ځوابونو په قطار کې سم ځواب مونده شي . سم ځواب دوه دی. په سم ځواب د ځواب په پاڼه کې کرښه راښکل مه هېروی.

## څلورمه بېلګه :

کله چې په هره ګردۍ کې د سپوږمۍ له پاسه ستورو څخه د سپوږمۍ له لاندې ستوري وکاږی ، نو یو پاتې کیږي. ددی پوښتنې سم ځواب څلور دی.

## پنځمه بېلګه :

دلته ټولې سپوږمۍ د ستورو په توګه شمېرل کیږي ، سربیره پر دې په ګردیو کې د سپوږمیو شمېر ته هم پام کېږي. سم ځواب درې دی . په هره ګردۍ کې شپږانځورونه دي.

## شپږمه بېلګه :

په ټولو ګردیو کې ګډ دوه ستوري دي په ګردۍ کې د سپوږمیو شېمر ته هم پام کېږي . چا سم ځواب پیدا کړ . ( څېړونکي یا تلونکی ) تائیدوي ، هو دری سم ځواب دی.

## اوومه بېلګه :

دلته په ټول انګړ کی هر څه درې ځلې دی . د سپوږمیو حالت ته هم پام کېږي. چا سم ځواب پیدا کړی دی ( څېړونکی یا تلونکی ) تائیدوي . هو یو سم ځواب دی.

## اتمه بېلګه :

کله چې سرې په هره ګردۍ کې د سپوږمۍ له پاسه ستورو څخه د سپوږمۍ لاندې ستوري وکاږي نو په هره ګردۍ کې درې ستوري پاتې کیږي . چا سم ځواب پیدا کړی دی ( څېړونکي یا تلونکی ) تائیدوي ، هو څلورم ځواب سم دی. څوک کومه پوښتنه لري ؟که نه ئې نو بیا هیله لرم چې پیل وکړی.

که چیرته په یوه پوښتنه کې بند پاتې شی ، نو ډیر وخت پرې مه لګوی ، بله پوښتنه حل کړی او ددې پوښتنې ځای د ځواب په پاڼه کې سپین پرېږدی ، که تیروزی په غلط ځواب دا ننبه ( x ) وکړی او په سم ځواب کرښه راکاږی.

**ارزښتنه :**

هر سم ځواب ته یوه نمره ورکول کېږي . په غته خبرنه کې د سمو ځوابونو د شمېرنې لپاره ښه دا ده چې سرې د یوه پیړ کاغذ او یا قیا خخه د ځواب ددې کیلي په اندازه کیلي جوړه کړي .
په پښتونخوا ( افغانستان ) کې د ۵۲۰ تنو د لاس ته راغلو نتیجو په بنسټ د لویانو لپاره د نورمونو پاڼه تیاره شوې ده.
ددې پاڼې په واسطه اووم ارزښت چې د سم حل کړو پوښتنو مجموعه ده په بنسټې ارزښت او هوښیارتیا په تول ( کچ ) اړول کېدلی شي او د ویکسلر ( Wechsler ) د لیک له مخې د تېرمان ( Terman ) د هوښیارتیا ددې تولګیو په مرسته روښانېدلی شي [11] .

## د هوښیارتیا تولګې

| ( IQ ) د هوښیارتیا توله | مانا |
|---|---|
| له ۷۰ خخه کم | ډېر کم عقل |
| له ۷۰ - ۸۰ پورې | کم عقل |
| له ۸۰ - ۹۰ پورې | لږ هوښیار |
| له ۹۱ - ۱۱۰ پورې | عادي یا منځنی هوښیار |
| له ۱۱۱ - ۱۲۰ پورې | ډېر هوښیار |
| له ۱۲۱ - ۱۴۰ پورې | ډېر زیات هوښیار |
| له ۱۴۰ خخه زیات | قابو ژنې یا نابغه |

**بېلګه** : کله چې یو سړی ۳۲ پوښتنې سمې حل کړې وي ، نو اووم ارزښت ( RW )ئې ۳۲ دی. د نورمونو په پاڼه کې ۳۲ اووم ارزښت( RW ) د ۱۰۵ بنسټې ارزښت ( SW )سره برابر دی چې دا بیا د هوښیارتیا د ۱۰۷ تولې( IQ ) سر سمون خوري.

**په لنډه توګه :**

اوومارزښت ( RW ) = ۳۲

بنسټيي ازرښت ( SW ) = ۱۰۵

د هوښيارتيا توله ( IQ ) = ۱۰۷

د هوښيارتيا ( ۱۰۷ ) توله (کچ ) د عادي يا منځنۍ هوښيارتيا په ټولګي کې راځي.

## د هوښيارتيا کولتوري بې پلوه تله

### د ځواب پاڼه

نوم:

د کورنۍ نوم ( تخلص )

کسب دنده :

عمر ( په کلونو ) :

نېټه :

## بېلگې



# د هوښيارتيا کولتوري بې پلوه تله

## د ځواب پاڼه

### تله



# د هوښيارتيا کولتوري بې پلوه تله

## د ځواب پاڼه

### تله



# د هوښيارتيا کولتوري بې پلوه تله

## د سموځوابونو کيلي

| د تلی پوښتنی | سم ځواب | د تلی پوښتنی | سم ځواب |
|---|---|---|---|
| ۱ | ۴ | ۲۶ | ۱ |
| ۲ | ۳ | ۲۷ | ۴ |
| ۳ | ۲ | ۲۸ | ۱ |
| ۴ | ۴ | ۲۹ | ۳ |
| ۵ | ۱ | ۳۰ | ۳ |
| ۶ | ۱ | ۳۱ | ۲ |
| ۷ | ۵ | ۳۲ | ۲ |
| ۸ | ۴ | ۳۳ | ۵ |
| ۹ | ۱ | ۳۴ | ۳ |
| ۱۰ | ۴ | ۳۵ | ۵ |
| ۱۱ | ۱ | ۳۶ | ۵ |
| ۱۲ | ۴ | ۳۷ | ۳ |
| ۱۳ | ۲ | ۳۸ | ۱ |
| ۱۴ | ۵ | ۳۹ | ۳ |
| ۱۵ | ۳ | ۴۰ | ۴ |
| ۱۶ | ۵ | ۴۱ | ۴ |
| ۱۷ | ۴ | ۴۲ | ۴ |
| ۱۸ | ۳ | ۴۳ | ۱ |
| ۱۹ | ۴ | ۴۴ | ۴ |
| ۲۰ | ۴ | ۴۵ | ۵ |
| ۲۱ | ۱ | ۴۶ | ۳ |
| ۲۲ | ۴ | ۴۷ | ۵ |
| ۲۳ | ۳ | ۴۸ | ۲ |
| ۲۴ | ۵ | ۴۹ | ۵ |
| ۲۵ | ۵ | ۵۰ | ۳ |

| د بېلګي پوښتني | سم ځواب |
|---|---|
| ۱ | ۴ |
| ۲ | ۱ |
| ۳ | ۲ |
| ۴ | ۴ |
| ۵ | ۳ |
| ۶ | ۳ |
| ۷ | ۱ |
| ۸ | ۴ |

# د هوښيارتيا كولتوري بې پلوه تله د نورمونو پانه

| اووم ارزښت(WR) | بنستيي ارزښت (SW) | د هوښيارتيا توله يا کچ(IQ) |
|---|---|---|
| ۱ | ۴۴ | ۴۹ |
| ۲ | ۶۷ | ۵۱ |
| ۳ | ۶۸ | ۵۳ |
| ۴ | ۷۰ | ۵۵ |
| ۵ | ۷۱ | ۵۶ |
| ۶ | ۷۲ | ۵۸ |
| ۷ | ۷۳ | ۶۰ |
| ۸ | ۷۵ | ۶۲ |
| ۹ | ۷۶ | ۶۴ |
| ۱۰ | ۷۷ | ۶۶ |
| ۱۱ | ۷۸ | ۶۸ |
| ۱۲ | ۸۰ | ۷۰ |
| ۱۳ | ۸۱ | ۷۱ |
| ۱۴ | ۸۲ | ۷۳ |
| ۱۵ | ۸۳ | ۷۵ |
| ۱۶ | ۸۵ | ۷۷ |
| ۱۷ | ۸۶ | ۷۹ |
| ۱۸ | ۸۷ | ۸۱ |
| ۱۹ | ۸۸ | ۸۳ |
| ۲۰ | ۹۰ | ۸۵ |
| ۲۱ | ۹۱ | ۸۶ |
| ۲۲ | ۹۲ | ۸۸ |
| ۲۳ | ۹۳ | ۹۰ |
| ۲۴ | ۹۵ | ۹۲ |
| ۲۵ | ۹۶ | ۹۴ |

| اووم ارزښت (WR) | بنستيي ارزښت(SW) | د هوښيارتيا توله يا کچ(IQ) |
|---|---|---|
| ۲۶ | ۹۷ | ۹۶ |
| ۲۷ | ۹۸ | ۹۸ |
| ۲۸ | ۱۰۰ | ۱۰۰ |
| ۲۹ | ۱۰۱ | ۱۰۱ |
| ۳۰ | ۱۰۲ | ۱۰۳ |
| ۳۱ | ۱۰۳ | ۱۰۵ |
| ۳۲ | ۱۰۵ | ۱۰۷ |
| ۳۳ | ۱۰۶ | ۱۰۹ |
| ۳۴ | ۱۰۷ | ۱۱۱ |
| ۳۵ | ۱۰۸ | ۱۱۳ |
| ۳۶ | ۱۱۰ | ۱۱۵ |
| ۳۷ | ۱۱۱ | ۱۱۶ |
| ۳۸ | ۱۱۲ | ۱۱۸ |
| ۳۹ | ۱۱۳ | ۱۲۰ |
| ۴۰ | ۱۱۵ | ۱۲۲ |
| ۴۱ | ۱۱۶ | ۱۲۴ |
| ۴۲ | ۱۱۷ | ۱۲۶ |
| ۴۳ | ۱۱۸ | ۱۳۸ |
| ۴۴ | ۱۲۰ | ۱۳۰ |
| ۴۵ | ۱۲۱ | ۱۳۱ |
| ۴۶ | ۱۲۲ | ۱۳۳ |
| ۴۷ | ۱۲۳ | ۱۳۵ |
| ۴۸ | ۱۲۴ | ۱۳۷ |
| ۴۹ | ۱۲۶ | ۱۳۹ |
| ۵۰ | ۱۲۷ | ۱۴۱ |

# Culturefair Intelligence Test
# (C I T)

## Contents:

Preface
Culturefair Intelligence Test
Introduction
Criticism of the Culture Freedom of the Non-verbal Intelligence Test
Demands which a Culturefair Intelligence Test should fulfill
Definition of the CIT
Basis of CIT
Methods
Results
Analysis
Area of Application of the CIT
Guidelines for the Culturefair Intelligence Test
Instruction
Evaluation
Culturefair Intelligence Test (CIT)
Answer Sheet
Key for the correct answers
Norm table
Culturefair Intelligence Test
Literature

# Preface

Intelligence plays in the human life important role. Since long time try psychologists to develop Culture-free or Culturefair Intelligence Test. Some psychologists called the non-verbal intelligent tests as Culture-free. But later was showed, that non-verbal intelligence tests are more culture dependent than verbal intelligence tests.

Diplom psychologist Dr. Kabir Stori, who is well-known in Pashtoonkhwa (Afghanistan) in literary circles as patriotic poet, developed a Culturefair Intelligence Test (C I T). In this test are all culture-specific factors eliminated or neutralized, therefore it is called culturefair. This test is not free from culture influences, but free from different strong influences of the different cultures. Culturefair Intelligence Test (C I T) of Dr. Stori is for the measure of innate general intelligence an important instrument, which can be internationally used. We are sure, that this Culturefair Intelligence Test is in many areas of the daily life, particularly in the education and for intercultural research important and for all nations of the world useful.

Layeq Zada Layeq

President of the Home of Science Pashtoonkhwa, Peshawar February 2004

# Culturefair Intelligence Test (C I T)

## Introduction:

Culturefair Intelligence Test (C I T) has not only a scientific theoretical meaning, but it earns also a large practical interest particularly at multinational states and multi-cultural societies.

The question of Intelligence Test without cultural bases or Culture-free Intelligence Test concerned man shortly before the First World War in the United States of America at the selection of the draftees because of their heterogeneous features, such as nation, origin, language and school of education. So a non-verbal version of the "Army-Alpha-Test" was developed under the Motto of equal chance for all which named the "Army-Beta-Test"[1]. The test was applied for the first time during the First World War. Since then a large number of non-verbal intelligence tests have been developed. With the passage of time the opinion strengthened that these non-verbal intelligence tests are culture independent. As a result of this, e.g. Cattle called his intelligence test to the non-verbal "culture-free intelligence test" [2]. But criticism increased at the culture independence non-verbal intelligence test which is presented shortly below.

## Criticism of the Culture Freedom of the non-verbal Intelligence Test:

Merz ascertained that language plays a role at non-verbal intelligence tests and it has a particular relationship to the language. According to him performance can be increased at a non-verbal intelligence test considerably, if one calls the examinees to express loudly or verbalise everything which they see or think. On the other hand verbalisation has no definite influence at the verbal intelligence test. This fact will be interpreted as "that language and the culture environments have considerable influences at such apparently non-verbal tests. The labelling of such tests as culturefair becomes doubtful with it" [3].

Drenth and Van der Flier write: "A great many non–verbal tasks are just as dependent on culture factors as verbal tasks are."[4]. Likewise recently they have more clearly stated that non-verbal tests are even more under cultural influences than verbal tests[5]. In our research which we have accomplished in1974 in Pashtoonkhwa (Afghanistan) and Germany, it was ascertained that besides languages other elements in the traditional intelligence tests play a role which have culture-dependent character [6].

Before the research was conducted the Figures Reasoning Test of Daniel was reflexed on a mirror so that the left become the right, which was according to the Pashto (Afghan) writing style.

We called these shifting Figure Reasoning Test “mirrors of the intelligence”. The Pashtoons at the mirrors of the intelligence, which correspond to their writing and thinking style showed at better results than in the Figure Reasoning Test [7)]. On the other hand the Germans showed conversely at the Figures Reasoning Test better results than at the mirror of the intelligence. So it can be concluded that thinking is moulded through education or socialisation in certain directions and that besides language, still further elements at intelligence test play a role which have culture-dependent characters, namely the direction of the task solution.

Liungman analysed some tasks of non-verbal intelligence test (Raven matrices and culture-free tests of Cattel) with regard to culture independence. He comes to the result that the logical principles of some tasks of the tests for members of different cultures have different meanings and in the sense of the constructor will not be understood [8)]. Also we have analysed the standard progressives’ matrices of Raven and ascertained that solution methods of some tasks is learned in school and has a school-dependent character. For the solution of these tasks the basic requirement is school education and the illiterates are not familiar with the solution method of these tasks and so they are disadvantage [9)]. In addition the tasks of most non-verbal intelligence tests have been constructed with geometric materials which are mediated to the large part in schools therefore the examinees with school education understand to evade with the geometric test material better, because they are already familiar with it than the same age illiterates.

Most of the non-verbal intelligence tests will be processed further using Latin alphabets or Arabic numbers from examinees. Since in some cultures of the Arabic number system on other number system is used, it is unsuitable, that the test tasks are produced exclusively with the Arabic number system or Latin alphabets, because the members of different cultures are differently familiar with it. Since it is not usual in all cultures, to work under deadline pressure, but the time limitation for task solution is not free of criticism. Also the goodness criteria of the classic test theory namely the validity the non-verbal tests are not satisfactory at different cultures [10)]. The criticism at the culture independence of the non-verbal intelligence test negates not only that the non-verbal intelligence test is culture-free or culturefair but indicates the following demands which can contribute to the definition and development of a Culturefair Intelligence Test.

## Demands which a culturefair intelligence test should fulfil:

### 1) Test material:

The test material between cross-cultural and intercultural groups (Such as illiterate and educated male and female, etc) should have relatively equal mass familiarity.

### 2) Directional independence:

The answer of the task should not dependent on a certain direction (e.g. on the right after on the left or on the left after on the right or above after below or conversely).

### 3) Solution Method:

The method of task solution should be the cross-cultural or intercultural groups relatively equally familiar between the masses, particularly the illiterates and educated, so that it should not have school-dependent character.

### 4) Time limit:

The test should not be strictly conducted under time limit.

### 5) Meaning invariance:

The test contents or the logical principals have no different meanings for cross-cultural and intercultural groups (e.g., Illiterates and educated: male and female, etc.)

### 6) Goodness Criteria:

The test should suffice the test theoretical demands, i.e., objectivity, validity and reliability.

**Objectivity:**

The test result should be independent of the influence of the test administration. There is also called specific objectivity. This exists, if a test is in conformity with the Rash-model.

**Validity**:

A test is valid if it measures which it should measures.

**Reliability:**

A reliability of the test is, how exactly a test measures. For the determination of the goodness criteria there are different methods, which can not be presented here.

**Definition of C I T:**

If the above mentioned demands are fulfilled by an intelligence test, it can be called a culturefair intelligence test. Then after fulfilment of these demands by a test, all of the known training and culture specific elements are eliminated or neutralised. Such a test is not free from culture influence, but free differently from strong influence of different cultures. In other words it stands under equal strong influence of different cultures. It is not constructed on common elements, but on the identical good elements of different cultures and stands relatively similar under requirements or conditions for the members of different cultures. At this test the cross-cultural and the intercultural groups (illiterates and educated) are neither preferred nor disadvantaged. One can mark it therefore in the further sense as culture-free.

The generally acknowledgement principle of the objectivity bases on the construction after which the observation results must be independent of the observer. Also the objectivity the idea which the “culture-free” intelligence test has given before in the strict sense is impossible to reach. In this agreement what we have achieved so far is that objectivity exits, if inter-subjective equality is reached with regard to similar facts. So an intelligence test is also to be marked then as “culture-independent” or “culture-free” if this stands strong under equal influences of the different cultures. But because of the precision we prefer the idea of Culturefair Intelligence Test.

## Bases of the (C I T):

The C I T has been developed under consideration of the criticism of the culture independence of the non-verbal intelligence test. The standard of material selection for the C I T was contrasting culture and natural objects. We do understand the objects, which man has changed and those objects of nature which man has changed, as culture objects. That the cultural objects can not be independent from culture therefore came the idea of natural objects in consideration. From nature objects the ones which were selected have firm forms, known by a common man and are universal e.g. crescents, stars, parts of the human body, hands, feet, etc.

Crescents and stars were used in the culturefair intelligence test only for technical reasons. The tasks were constructed with the crescents and stars so that, on the one hand, the answer of the tasks is not direction dependent and on the other hand some of the logical principles of traditional intelligence test (like FRT, PMT, and Lps) are transferred to them. The degree of difficulty of tasks of culturefair intelligence test is logically determined through the numbers of the forms, degree of comparison and number of the logical principles. The tasks are processed in the culturefair intelligence test with the following score system. Each series go to three and after that points are inserted above the series so that symmetry survives. Ten is marked by a stroke.




The demands, the meaning invariant and the goodness criteria were examined empirically.

## Methods:

The C I T was accomplished along with the traditional non-verbal intelligence test (Figure Reasoning Test of Daniel and progressive matrices of Raven) in Kunar-Pashtoonkhwa (Afghanistan) on 520 persons and analysed subsequently by the Rash-model and classic test theory.

## Results:

It showed that the C I T after the classical test theory and also with regards to conformity by the Rash model is considered superior than the traditional tests. It is covering raw score groups and education groups that the Rash-model conforms and thus is specifically objective while the traditional tests are not conformed by the Rash-model. The demand of the meaning invariant is herewith also fulfilled. In addition, the culturefair intelligence test set larger internal consistency reliability than the traditional intelligence tests.

## Analyses:

Beside the demands of the meaning invariant the demands of the material are already fulfilled because the material or the figure with which the test is constructed, are known to everybody and are universal. With these figures in contrast to the geometric figures, both illiterates as well as educated persons in different cultures are relatively equally familiar. Also the demands of “direction independence” and “solution method” are already fulfilled by the C I T. The task of the C I T is not direction dependent and method of the task solution does not require school education.

Therewith are treated the task by no one of different languages or numerals independent “Score system” from which one can assume that the members of different cultures trust equally in it or they are not familiar with it. The demand of “time limitation” is fulfilled in the C I T. Enough time is made available for the answer of the task. Also the goodness criteria namely objectivity, validity and reliability, of the C I T are satisfactory.

How empirical C I T is become ascertain from its specific objectivity and internal consistency (Reliability) than the traditional intelligence tests. The validity of the C I T is found logically through the transfer of the logical principles of the traditional intelligence tests on the task of the C I T.

Summing up one can say, it fulfils almost all demands which are required by a culturefair intelligence test and is thus a culturefair instrument.

## Areas of application of the C I T:

In the C I T are all culture specific elements eliminated or neutralised. Therefore it measures predominantly innate general intelligence, which is involved in each performance. This is an important instrument, not in a cross-cultural intelligence research, but in many areas of the daily life, particularly in education and training for the selection of the students for colleges and universities. It is important for selection and judgement of ability of the service personnel different organisations.

The international practical meaning of the intelligence test is widening from day to day since the population contacts have increased and will increase furthermore.

## Guidelines for the culture-fair intelligence test

### Implementations:

The C I T is suitable for singles and groups investigation. Before one utilises this test at other, it is meaningful, to employ an experiment on own body. For it the answer sheet should be copied first, whose pattern is to be seen at the end of the instructions.

In the case of group research the test administrator explains in the beginning with few words the purpose of the research. He attempts to create an atmosphere of easy receptiveness. After that the test administrator calls the examinees to note their personal data and date on the answer sheet (the administrator shows thereby with a finger or a pencil on corresponding places). For the illiterates the test administrator enters the personal data themselves in the corresponding categories, after he/she has asked the examinees about it. After that the test administrator gives the following instruction.

### Instructions:

The test administrator explains at hand of the answer sheet and the test tasks and the score system with words. You see here deep points. These have a certain meaning which is to be understood easily. A point counts one, two points two and so forth up to nine points which mean of course nine. For ten points we have made a stroke. That is more clearly visible and easy to count than the points. A stroke counts as ten and two strokes are twenty points, three strokes are thirty and so forth, five strokes are fifty. A point and a stroke mean therefore 11, two points and a stroke are 12, nine points and a stroke are 19, a point and two stroke means 21, a point and three strokes mean are 31, etc.

Now pay attention please. At both pages on the right and on the left of those sheets which we call answer sheet, you see large points or numbers and in the middle small points or numbers, the large points or numbers are the number of the tasks of the C I T. Please compare, whether they are correct! Under each tasks are five answer rings, above it are small points or numbers, this is answer number of the task which is copied in the middle of the answer sheet. Do you still have any questions to this score system? The test administrator then goes to the example tasks.

**1st example:**

You see within these rings, stars and crescents which are ordered after certain rules. The test administrator says:" if you add up within this ring the stars below the crescent and above the crescent that comes to six stars. The same also counts for other rings. Is it correct?" (The test administrator waits so long until the examinees have checked). So there are six stars and a crescent in each ring. That equal counts also for the empty ring. Now we look at the ring in the lower series from the five possibilities in which six stars and a crescent are found. Therefore the answer no. 4 is right. So we have marked 4 in the answer sheet. I would like to point it to you that there is always only one right answer.

**2nd Example**:

In each ring you see a single star whose position plays no role in it .The common of all rings is important and this is a star. The right answer is the no. 1. Therefore, the ring in which one star is found is the right one. Please, mark 1 in your answer sheet. Does somebody still have a question?

**3rd Example:**

Herewith it comes to total number of stars in the total field. In the total field are twice two stars, twice one star but once three stars. These three stars should occur also twice so that the pattern is completed. Now it is easy to find the right answer. It is the no. 2. Please do not forget to mark the right answer in your answer sheet.

**4th Example:**

If you remove in each ring the stars which are located under the crescent from the stars over the crescent, remains always one. At this task the right answer is the no. 4. Does somebody still have questions?

**5th Example:**

Herewith all crescents are counted like stars. Besides the number of the crescents is in the rings considered. The right answer is then three. In each ring are six figures.

**6th Example:**

The common in all rings are two stars. Beside the number of the crescent in the rings should be considered too. Has somebody found the right answer? The test administrator confirms: Yes, three is the right answer.

**7th Example:**

